**گزارشگران پورتال**

افغانستان ـ ۲۳ می ۲۰۱۲

# کندهار د شیطان په لومو کی!

## له کندهاره دیوه لنډکی سفر یادداښتونه

که چیری دګران هیواد څه کم دری سوه کلن معاصر تاریخ ته چی سیمی ته دانګریزی سامراج دراتګ سره سمون لری ، یوه کتنه وکړو نو ددی هیواد دخپلواکی، ملی یوالی اوځمکنی بشپړتیا په وړاندی دسیسی اوشیطانتونه له ورایه ځرګندیږی.

کله چی احمدشاهی امپراتوری دانګریز د پلانونو په پایله کی دړی وړی شوه او دهغی دلمسیانو ترمنځ یی داسی تربګنی اودښمنی وپارولی چی پایله یی دسدوزو دواکمنی پای اوپه افغانستان دانګریزانو پوځی یرغل و چی په تیرو دوو پیړیو کی یی دری جګړی زمونږ په ولس وتپلی، دهیواد ډیر برخی یی جلا اوپه برتانوی هند پوری وتړلی کشمیر، پیښور، دیره اسمعیل خان کوټه اوبلوچستان دهیواد له نقشی څخه ووتلی. انګریزی استعمار چی یوازی دملک په نیولو اودحکومتونو په پرځولو باندی بسیا ونکړه او په دهیوادکی یی کور په کور اوکلی په کلی ددښمنیو اوتربګینیو اورونه بل کړل چی تراوسه ددی اورونو لمبو ته خپلی کټوی پخوی.

کندهار چی داحمدشاهی امپراتوری پایتخت پاته شوی ددغوشیطانی دسیسو څخه ترنورو سیمو ډیر اغیزمن شوی اوترننه پوری تربګنی اودښمنی په درب پکی روانی دی. دمزدوری اداری ترڅنګ چی هرڅه په قومی فورمول ترسره کیږی اوچوکی اونوری چاری هم په قومونو ویشل کیږی، وسله وال مخالفین( طالبان) هم په قومی بنسټ سره خپلی چاری ترسره کوی اودهر قوم طالبان جلادی.

داوسنی جګړی مهندیسین( نریوال امپریالیزم) په ډیره زیرکی سره له دغه قومی بیلتونپالنی اوتاو تریخوالی څخه ګټه پورته کوی. داسی چی اخکزی طالبان ، نورزی مشران ښکاروی، الکوزی طالبان بیا بارکزی اونور ښکاروی اودالړی روانه ده، او دولت هم بالمثل کړه کوی.

دافغانستان دخلکو دسپیڅلی جهاد په شپو وروځو کی کله چی په ګاونډی هیوادونو کی دمجاهدینو لپاره ۷ او ۸ تنظیمونه (ددین پلورنی هټی) جوړ شول نو ددی تنظیمونوپه اصطلاح مشران اوواکداران په تصادفی توګه ونه ټاکل شول. که یوی خبری ته ښه ځیر شو نو دپیښور په اوه ګونو تنظیمونو کی په پښتنو مشرانوکی، یو هم په

درانی قومونو پوری نه وتړلی. یعنی له ربانی پرته چی په قوم تاجک و، پیرصاحب اوحضرت صاحب خو عربان دی، نور داځلور واړه چی پخپل منځی جګړو کی هم ترنورو وړاندی و، په غلجیو پوری تړلی و. ګلبدین خروټی(غلجی)، سیاف خروټی؟، مولوی صاحب خالص خوګیانی(غلجی) اومولوی محمد نبی هم په غلجو پوری تړلی و. که له دی نه یو څه وړاندی اویوځه وروسته ولاړ شو نو نورمحمد تره کی (غلجی)، امین غلجی ډاکتر نجیب غلجی اوبالاخره ملامحمد عمر هم هوتک دی چی دغلجو یوه شاخه ده.

دی ټاکنو اوننیو لوبو ته که چیری په ژوره وګورو نو داهماغه زوړ سامراج دی چی مشران راته نوموی او په مونږ یی تپی. همدارنګه که دمجاهدینو لیکو ته وګورو نو په پښتنو سیمو کی یو درانی توکمه قومندان هم دشهرت لوړو څوکو ته ونه رسید. داولی؟ آیا دا کار ددی لپاره وشو چی په درانی قومونو کی چی دا دری سوه کاله دملک چارواکی پاته شوی، دسر سری نه و ؟ اویا هم لټان شوی و اودپادشاهی اومشری په خیال کی نه و؟ اویا داچی غلجی له دوی څخه ډیر غښتلی و؟ داهغه پوښتنی دی چی ځوابونه یی یوازی اویوازی دانګریز(ننی امریکه) په شیطانی طرحو اوتګلارو کی ترسترګو کیدای شی.

په ګران هیواد افغانستان کی چی کوم قومونه ژوند کوی که پښتانه دی اویا غیرپښتانه په میرانه اوغیرت کی یوتربل تیری کوی، هرقوم په خپل وار دتاریخ په اوږدو کی خپله وړتیا اوځان ښندنه په ثبوت رسولی. دلته یوه کوچنی مثال ته غواړم اشاره وکړم ، هغه داچی نن سبا په هیواد کی پشه یان ترنوروورونو قومو په شمیره کی لږ او په سیاسی چاپیریال کی یی ونډه پیکه ده. ولی همداغه په اصطلاح عاجز قوم زمونږ په هیواد کی داسی تاریخ لری چی نورقومونه نشی ورته رسیدای. پشه ای ژبه داسلامی دور نه مخکی دسوونو کلنولپاره دنړی دیوی لویی امپراتوری اوښکلی تمدن( دګندهارا تمدن) ددربار ژبه وه، یعنی داشرافو او ځواکمنانو ژبه وه.

اوس راځو اصلی ټکی ته اوهغه داچی ولی دجهاد په وخت کی په پښتنوکی اوپه خاصه توګه په درانیو کی یو رهبر اویا یو وتلی قوماندان راڅرګند نه شو؟ دا خبره هم تاریخی ریښنی لری. دغلجو اودرانیو ترمنځ سیالی اوتربګنی داحمدشاه بابا دزیږیدنی نه مخکی موجودی وی اوآن تردی چی داحمدخان کورنی دهمدی سیالیو په نتیجه کی هرات ته کډه شوی وه. بیا تریوی لنډی مودی چی هوتکیانو واکمنی وکړه نو د۱۷۴۷ کال راپدیخوا دهیواد چاری ددرانیو په لاسونو کی وی اودځواک بدلون په طبیعی توګه له ځانه سره یو څه ناخوښی او خپګانونه ، لری،

په سیاسی ، ټولنیز اوپوځی ډګرونو کی داستعمار زوړ فورمول( ایل یی کړه! بیل یی کړه) دهیواد په کچه اوبیا دپښتنو په کچه دلمر په شان ښکاره او ددرک وړدی: دهیواد په کچه سره استعمار اوبیا دهغوی په پله لیبرال استعمار په لږکیو تکیه وکړه، دهغو دناراضتیو څخه یی ګټه پورته کړه اودځان دساتنی لپاره یی ملیشی تری جوړی کړی ، چی ددوستم، مزاری اوربانی ملیشی دپام وړدی، په پښتنو کی عصمت مسلم کله چی دآی اس آی ترفشار لاندی له مزدوردولت سره مل شو اوملیشی یی جوړی کړی نو بیا دهمدغه دولت پواسطه له منځه هم لاړ.

په پښتنو کی هم همداسی وشول، درانی چی ۳۰۰ کاله په واک کی و،له واک اوچارو لیری وساتل شول اوغلجی چی خوامخوا به یوڅه ناخوښ و، پرمختګ اوشهرت ته پرینبول شول اومرسته ورسره وشوه چی رهبران او وتلی بولندویان پکی راڅرګند شی. چی داپه هیڅ ډول دنورو قومونو که پښتانه دی اویا غیر پښتانه دی، دنه وړتیا اوکمزوری په معنی ندی، بلکه دا دانګریزی استعمار چی اوس یی دامریکی دامپریالیزم پواسطه دچارو سمبالښت کیږی کړنلاره اوپالیسی ده چی ترننه پکی کبان نیسی. دانګریز دغه ناوړه تګلاره دهیواد په ټولو سیمو کی ښکاره ده، آن په وردګو کی هم دپیښورساخت تنظیمونو خپل ولایتی آمرین دهمدی فورمول په رڼاکی ټاکلی و. خرم خیل

چی داحمدشاه بابا له زمانی بیا دغازی بابا(محمدجان خان وردگ) ترغزاګانو پوری دوردګو مشران پاته شوی اومیرخیل دیوه جنګیالی ټبر په توګه، په دی دوره کی مخ ته پری نښول شول، داسی چی داوه ګونو تنظیمونودمشرانو څخه یو هم په خرم خیلو اومیرخیلو پوری نه وتړلی. ددی خبری معنی داده : هرچا چی په تیرو زمانو کی دانګریز سره ډیر سرجنګولی څندی ته پاته کیدو ته اړایستل شول.

څرنګه چی مخکی یادونه وشوه، په کندهار کی قومی بیلتون او سیالی ترنورو سیمو ډیری څرګندی اومشهودی دی. دکندهارپه ولایت کی چی شاوخوایی زابل، هلمند، ارزګان، فراه اونیمروز پراته دی اوپه ټولیزه توګه دلوی کندهار جغرافیه جوړی دغلجو اودرانیو قومونو اصلی ټاټوبی دی . داسی چی دکندهار ولایت ختیځی دروازی دبولدک اوچمن خواته اځکزی اونورزی پراته دی، په مرکز اوسویل کی بارکزی اوپوپلزی، په شمال کی الکوزی اوپه لوید یځ کی نورزی او علیزی ژوند کوی.

داحمدولی خان ترمړینی وروسته په چاروکی قومی انډول مخ په بدلیدو دی، له یوی خوا امنیتی وضع نوره هم کړکیچنه شوی اوطالبان په ښکاره دورځی په رڼا کی په دولتی ځایونو بریدونه کوی اوله بلی خوا دپوپلزیواونورو درانیو ډیر مشران د جان محمد خان په ګډون ښکارشول. په دولتی ادارو کی هم بدلونونه اوټاکنی رامنځ ته شوی او دښار امنیتی چاری دبولدک سرحدی لوا ته چی مشری یی عبدالرازق خان چی په قوم اځکزی دی وسپارل شوی او دښار په دروازو او څلورلاروکی دپولیسو دامنیتی شنو دریشیو په ځای خړی سرحدی دریشی ترسترګو کیږی.

ددی ترڅنګ چی دکندهار اوشااوخوا ولایتونو ولسوالی اوکلی دوسله والو مخالیفونو په لاس کی دی اودناتو پوځیان دلته په یوه ناولی جګړه بوخت دی، هره ورځ په لسګونو اوآن سلګونو هیوادوال ددغه جګړی په اورکی سوزی، داسی ښکاری چی دګوډاګی رژیم نه لاره ورکه ده، اونه پوهیږی چی څه وکړی ؟ اوڅوک چیرته وګوماری؟ نوځکه خپله رژیم هم په دغه قومی تاوتریخوالی کی ښکیل دی، یو حریف په بل څملوی.

اوس اوس چی د انګریزپه لاس دجوړشوی پاکستان د ننګین ژوندانه وروستی شپی اوورځی دی اودبلوچستان دجوړیدو او دچین له منګولوڅخه دګوادر بندر دژغورلوګنګوسی ترغوږو شوی نو په کندهار کی بدلونونه اوټاکنی هم دهمدی ماستر پلان په رڼاکی ترسره کیږی. دپښتونستان داعیه چی دهندوانو اوشورویانو لخوایی مالی ملاتړ کیده، اوس بیا راژوندی شوی! کندهار ته دتنظیمیه رییس په توګه دسرحداتواوقبایلو دچارو دوزیر اسدالله خالد چی په ختیځ تره کی او په غلجو پوری تړاو لری، ټاکنه اوهغه ته دهرډول واک اوځواک ورکول اودکندهار امنیت دسرحد اځکزیو ته ورکول دهمدی کړنلاری پیلامی بلل کیږی. همدارنګه ویل کیږی چی امریکایی درون الوتکی یوازی په شمالی وزیرستان(میرانشاه) اوڅه ناڅه په جنوبی وزیرستان(وانه) ګزمی کوی اوبمونه غورځوی؟ ولی کویټه، پښین، بادنی اودبلوڅو په ګاونډ کی نوری سیمی چی دمخالفیونو مرکزونه اودرهبری شوری هم دلته دی، له جګړی لیری ساتل کیږی دهمدی خبری ښکارندویی کوی چی غواړی دوګړو ډیری دبلوڅ میشتو سیمو ته وکوچوی چیرته چی پراخی اوسمسوری دښتی اوبیابانونه شتون لری اوڅوک پکی نه اوسیږی. کټ مټ د ۱۶پیړی دایټالوی نامتو لیکوال نیکولو ماکیاولی د زورواکی دفورمول سره سم یعنی دیوی سیمی دنیولو اوساتلو لپاره تر هرڅه دمخه هلته نوروګړی ځای پرځای کول دی، ترسره کیږی.

کندهار چی دالس کاله دامپریالیزم دسخاوتمندیو؟ څخه ډیرلږڅه ترلاسه کړی، اوس اوس یووار بیا دنړیوالو سودخورو دپام وړګرځیدلی اوغواړی دنامیانو دغه ټاټوبی دخپلو شومو جیو –پولیټیکی اوجینو پولټیکی موخولپاره وکاروی. دوی په ډیره ناځوانی دکندهار نامتو مشران اوجهادی قوماندانان یو په بل پسی له منځه یوورل. دجهاد

دسنگرونود نامی ساتندویانو ښځه اوس دګوتو په شمیر ځو تنه پاته دی چی هغوی هم د سیاسی-پوځی چاپیریال ښځه لیری ساتل شوی اوکه کوم یو په ډګر کی لاتراوسه پاته دی نو هغه هم هره ګړی د دښمن دشیطانتونو اودسیسو سره لاس اوګریوان دی.

(پای)